# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**4 ثور_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


نشستی پیرامون انتقال بیجاشده گان به محلات اصلی شان، در وزارت امورمهاجرین برگزارشد ----------------------- 1

ایران څخه تر دوو زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول------------------- 1

صد ها تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود--------------------------------------------------------------- 2

بدخشان کې له ۲۶ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه -------------------------------------------------------------- 2

نشست هماهنگی در ولایت بلخ، برگزارشد---------------------------------------------------------------------- 3

د ننګرهار په تورخم کې له موسسو سره د همغږۍ ناسته وشوه------------------------------------------------------ 4

ایټالیا: محکمې پر مرستندویه سازمانونو د انساني قاچاق تورونه رد کړل ---------------------------------------------- 5

د بې سرحده ډاکټرانو سازمان له پاکستانه د افغانانو د ایستلو دویم پړاو په اړه اندېښنه څرګنده کړې------------------ 7

بسته مالی جدید اتحادیه اروپا برای لبنان برای محدود کردن مهاجرت ----------------------------------------------- 9

وزیران کشورهای منطقه مدیترانه: اتحادیه اروپا باید روابط را با کشورهای مبدا مهاجران «تعمیق» بخشد----------- 9

# متن کامل اخبار

## نشستی پیرامون انتقال بیجاشده گان به محلات اصلی شان، در وزارت امورمهاجرین برگزارشد

ویب سایت وزارت



**نشستی با اشتراک نماینده های سازمان بین المللی مهاجرت، کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امورپناهنده گان و دفتر هماهنگی کمک های بشردوستانه سازمان ملل متحد، در وزارت امو رمهاجرین و عودت کننده گان برگزارشد.**

**در این نشست پیرامون موضوع انتقال بیجاشده گان به محلات اصلی شان و حل مشکلات آنان بحث صورت گرفت.**

**مولوی سردار شیرزاد، رییس رسیده گی به وضعیت بیجاشده گان گفت: اکنون زمینه خوب مساعد شده که بیجاشده گان به محلات اصلی شان قبل از آغاز دوباره خروج اجباری افغان های از کشور های همسایه انتقال یابند.**

**شیرزاد افزود، در سراسر کشور ده ها هزار خانواده خواهان انتقال به محلات اصلی شان هستند اولویت برای ولایت کابل بوده و هزاران خانواده طور داوطلبانه آماده برگشت به محلات اصلی شان میباشد.**

**وی در این راستا خواهان همکاری نهاد های ذیربط شده تا برای آنان زمینه های اشتغال زایی، آموزش و بود باش مهیا گردد.**

**نمایند های نهاد های یاد شده از هماهنگی وزارت قدردانی نموده آنان از همکاری شان اطمینان داده گفتند: با همکاری و هماهنگی با یک دیگر وارد اقدام عملی شویم تا نتایج مثبت را در قبال داشته باشد.**

## ایران څخه تر دوو زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

په ایران کې مېشت دوه زره او ۶۰۰ تنه افغان مهاجرین د وري ۳۱ مه او د غوایي لومړۍ نېټه د هرات د اسلام کلا له لارې خپل هېواد ته راستانه شول.

د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، په دغو کسانو کې کورنۍ هم شاملې وې، چې ۴۹۲ تنه یې اړمن وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.

دغه راز ۸۰ کورنیو سره لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه، ۴۶ بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه وارچایلډ موسسې ته ور وپېژندل شول او ۱۵۸ تنو ته هلته په پوله کې د ګومارل شوو کمېټو له خوا په وړیا توګه سیمکارتونه وویشل شول.

او ۶۰۹ تنه نور له روغتیایي خدمتونو برخمن شول.

## صد ها تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

۶۷۳ تن مهاجر افغان به تاریخ ۲ ثور از خط فرضی تورخم و سپین بولدک به کشور برگشت نموده اند.

به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۷۱ خانواده شامل ۳۸۹ تن از مرز یاد شده برگشت پس از ثبت در آن آمریت جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی و برای هر خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانی از طرف امارت اسلامی نیز پرداخت شده است.

و به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۵۴ خانواده که شامل ۲۸۴ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت و بعد از ثبت درااداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

## بدخشان کې له ۲۶ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**په بدخشان ولایت کې پرون د غوایي دویمه نېټه پر ۲۶ بې ځایه شویو او راستنېدونکو کورنیو نغدي مرسته ووېشل شوه.**

**دغه کورنۍ وړاندې هلته د ولایت په مرکز کې سروې او پېژندل شوې وې او له هغې وروسته د افغان ښځو لپاره د ښځو موسسې له خوا ۱۷ زره او ۷۵۰ افغانۍ او ۲۱ زره ۵۰۰ افغانۍ مرسته ورسره وشوه.**

## نشست هماهنگی در ولایت بلخ، برگزارشد

ویب سایت وزارت



**نشست هماهنگی برای شناسایی و رسیدگی به موارد اضطراری با حضور نماینده های ادارات ذیربط حکومتی و موسسات مدد رسان در ولایت بلخ بتاریخ۲ ثوربرگزارشد.**

**درآن نشست نماینده موسسه آغا خان از همکاری و حمایت آن نهاد با هماهنگی ریاست امو رمهاجرین ولایت بلخ در مورد شناسایی قضایای خاص برای افراد نیازمند اطمینان داد.**

**مولوی اسد الله وفا، رییس امورمهاجرین ولایت بلخ از همکاری آن نهاد ستایش نموده و تاکید بر شناسایی افراد مستحق نمود**

**در پایان شرکت کنندگان در جلسه از همکاری  آن موسسه  تقدیر نموده و عده همکاری بیشتر را نمودند.**

## د ننګرهار په تورخم کې له موسسو سره د همغږۍ ناسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د ننګرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د تورخم سرحدي آمریت د همغږۍ ناسته پرون د غوایي دویمه نېټه د دغه ولایت د همکارو موسسو له استازو سره وشوه.

د تورخم د لېږد رالېږد آمر بخت جمال ګوهر له ټولو همکارو موسسو مننه وکړه، چې د راستنېدونکو مهاجرینو لپاره یې غوره او نه هېرېدونکي خدمتونه وړاندې کړي دي.

د موسسو استازو د معلوماتو په شریکولو سره خپلو فعالیتونو او ستونزو ته یوه لنډه کتنه وکړه.

د تورخم سرحدي آمر دوی ته د ستونزو د حل په موخه د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.

## ایټالیا: محکمې پر مرستندویه سازمانونو د انساني قاچاق تورونه رد کړل

مهاجرنیوز




په ایټالیا کې یوې محکمې اعلان کړی چې پر یو شمیر مرستندویه سازمانونو چې په مدیترانه کې یې د کډوالو د ژغورلو عملیات ترسره کول، د انساني قاچاق تورونه رد کړي. له دې وړاندې د ایټالیا دولت د مرستندویه سازمانونو د ژغورنې پر کښتیو د انساني قاچاق تور پورې کړی و.

له دغو تورونو اوه کاله وروسته اوس د ایټالیا د سیسیل په سیمه کې د تراپاني ښار یوې محکمې د دولت تورونه نه دي منلي او د دغې قضیې څېرل یې درولي.

د ایټالیا دولت هغه مهال پر یو شمیر مرستندویه سازمانونه او دوې ته اړوند یو شمیر د ژغورنې کښتیو تور لګولی و چې په مدیترانه کې د کډوالو د ژغورنې په بهانه دوې د انساني قاچاق له ډلو سره لاس لري.

د یونتا د ژغورنې کښتۍ چې د المان د یوې مرستندویه سازمان لخوا داره کیږي، د ووس وستیا په نوم د ژغورنې کښتۍ چې د ماشومانو د ژوغورنې سازمان لخوا داره کیږي او د ووس پرودنس کښتۍ چې د بې پولې ډاکټرانو لخوا اداره کیږي د یادې قضیې په موخه محکمې ته حاضر شوي وو.

د دغو سازمانونو مسولین د جمعې په ورځ د اپریل په ۱۹، د محکمې د یادې پریکړې هرکلی وکړ.

د دغو تورونو قضیه وروسته له هغه پیل شوه چې په ۲۰۱۶ کال کې ۱۸۱ کډوال ایټالیا ته ورسیدل. د کډوالو د دغې لویې څپې له رسیدو یو کال وروسته، دولت د مرستندویه سازمانونو پر فعالیت څارنه پیل کړه او له انساني قاچاقچیانو سره د دغو سازمانونو د لاس لرلو د شایعاتو په اړه یې هم څیړنه پیل کړه.

په دې اړه شایعات د لومړي ځل لپاره د ماشومانو د ژغورنې سازمان د یو امنیتي کارکوونکي لخوا رامنځ ته شو. د څیړنې پر مهال د ایټالیا پولیس خپل یو کارکوونکي د دغه سازمان د ژغورنې په کښتۍ کې په کار و ګمارل او په ورته وخت یې نورې څیړنې هم پیل کړې.

**پر خیریه کارکوونکو د تورونو پورې کول**

**په ۲۰۲۱ کال کې ایټالوي چارواکو د یادو سازمانونو پر ۲۱ کارکوونکو تور پورې کړ چې دوی د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو ترمنځ له لیبیا څخه ایټالیا ته په ناقانونه ډول د کډوالو د لیږلو زمینه برابره کړې.**

**د بخښنې نړیوال سازمان او د بشري حقونو د څار ادارې هغه مهال د ایټالیا دولت پر دغو تورونو غبرګون و ښود او پر دولت یې نیوکه وکړه چې د بشري فعالیتونو او په مدیترانه کې د خلکو د ژوند ژغورلو ته د جنایي کړنو نوم ورکوي.**

**یادو سازمانونو د دولت تورونه رد کړل او ویې ویل چې له انساني قاچاقچیانو سره هیڅ تړاو نه لري.**

**د یادولو ده چې د ژغورنې له هڅو سره سره بیا هم په ۲۰۲۳ کال کې له ۲۴۰۰ ډېرو خلکو په مدیرانه کې خپل ژوند له لاسه ورکړی.**

**د دولت د تورونو د نه منلو سربیره بیا هم ایټالوي چارواکي په مدیترانه کې د ژغورنې د کښتیو د فعالیتونو د محدودولو هڅه کوي.**

## د بې سرحده ډاکټرانو سازمان له پاکستانه د افغانانو د ایستلو دویم پړاو په اړه اندېښنه څرګنده کړې

مهاجرنیوز




**د بې پولې ډاکټرانو سازمان وايي چې د پاکستاني چارواکو له خوا له دغه هېواد څخه د افغان کډوالو د ایستلو د دویم پړاو په اړه «سخت اندېښمن» دی. د راپورونو له مخې، یوازې د چهارشنبې په ورځ لسګونه کورنۍ په زوره له پاکستان څخه ایستل شوې دي.**

د بې پولې ډاکټرانو ادارې له پاکستان څخه د افغان کډوالو د ایستلو د دویم پړاو د پیل په اړه «سخته اندېښنه» ښودلې ده. دغه سازمان د سه شنبې په ورځ د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره وویل چې «د کډوالو پر حقونو د دې لړۍ د ناوړه اغېزو په اړه اندېښمن «دی.

په خبرپاڼه کې راغلي دي چې ګڼ شمېر افغانان له لسیزو راهیسې په پاکستان کې مېشت دي، خو قانون ورته دا حق نه ورکوي چې هغه ځای کې پاتې شي چې دوی یې خپل «کور» بولي.

په اعلامیه کې زیاته شوې ده چې افغانان له خپلو وسایلو سره یو ځای د نقلیې په بېلابېلو وسایطو کې په داسې حال کې خپل هېواد ته ستانه کېږي چې افغانستان له پراخې بې وزلۍ، ناکافي روغتیايي خدمتونو او د ښځو پر وړاندې د بندیزونو سره مخ دي.

دا هم ولولئ
<u>د افغان کډوالو د ایستلو خبرداری؛ لسګونه افغانان له پاکستان څخه ایستل شوي</u>

لسګونه کورنۍ ایستل شوې

د رسنیو د راپورونو له مخې، پاکستاني چارواکو د اپریل په ۱۵مه له دغه هېواد څخه د افغان کډوالو د ایستلو دویم پړاو پیل کړ. دا هغه افغانان دي چې د» اې سي سي

«په نوم کارتونه لري. ویل کېږي چې د کډوالو د ایستلو درېم پړاو کې به هغه کسان له پاکستان څخه وشړل شي چې» پي او آر

«یا د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ کارتونه ولري.

پر افغانستان د واکمنې ډلې د کډوالو چارو وزارت د چهارشنبې په ورځ اعلان وکړ چې یوه ورځ مخکې نږدې ۲۳۰ کډوال په جبري توګه د تورخم له لارې افغانستان ته استول شوي دي. دغه وزارت زیاته کړې چې ایستل شوي کډوال د ۵۳ کورنیو غړي دي. یاد وزارت د دوشنبې په ورځ هم له پاکستان څخه د ښځو او ماشومانو په ګډون د څه باندې ۵۰ افغانانو د ایستلو خبر ورکړی و.

پل پلو پاکستان کې سما ټلویزون هم د یکشنبې په ورځ ویلي وو چې تېرو ۱۰ ورځو کې لږترلږه ۸۶۰۰ کسان له دغه هېواد څخه اخراج شوي چې ۳۱۰ کورنۍ هم پکې شاملې دي. دغه ټلویزیون زیاته کړې وه: «د اپریل له ۳ څخه تر ۱۳ پورې، ۸۵۸۱ افغانان بېرته خپل هیواد ته ستانه شوي چې ډله کې یې ۳۱۲۷ نارینه، ۱۹۷۲ ښځې او ۳۴۸۲ ماشومان شامل دي«.

پاکستاني رسنیو د مارچ میاشتې په وروستیو ورځو کې لیکلي وو چې د دغه هېواد چارواکو د اسناد لرونکو افغانانو د معلوماتو د راټولولو بهیر پیل کړی دی. په راپورونو کې راغلي وو چې د پاکستان د بېلابېلو سیمو چارواکو او امنیتي ځواکونو ته هدایت ورکړل شوی دی چې د دغو کډوالو هویت او د اوسېدو ځایونه معلوم کړي.

دا هم ولولئ
<u>پاکستان د اسناد لرونکو افغانانو د ایستلو لپاره چمتووالی پیل کړی</u>

له خطر سره مخامخ افغانان

تر دې دمخه نړیوالو سازمانونو له پاکستانه د افغانانو د اخراج پر پرېکړې سختې نیوکې کړې دي. د بخښنې نړیوال سازمان د مارچ په ۲۵مه پر خپله ایکس پاڼه له پاکستان څخه د کډوالو د ایستلو د دویم پړاو په اړه اندېښنه څرګنده کړه او ویې ویل چې

دغه پروسه د ګڼو افغانانو ژوند له خطر سره مخامخ کوي. یاد سازمان له پاکستاني چارواکو غوښتي وو چې د افغانانو د ډله ایز اخراج ودروي او د نړیوالو قوانینو پر اساس د پناه غوښتونکو حقونو ته درناوی وکړي.

یادې ادارې همداراز له له نړیوالې ټولنې څخه غوښتنه کړې ده چې پاکستان کې د افغان پناه غوښتونکو د دوسیو د ارزولو لړۍ چټکه کړي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې د شمېرو له مخې، په پاکستان کې ۲،۱۸ میلیونه اسناد لرونکي افغان کډوال ژوند کوي. په ۲۰۰۶ او ۲۰۰۷ کې د ترسره شوې سروې پر اساس د دغو کډوالو له ډلې څخه ۱،۳ میلیونه یې «پي او آر» کارتونه لري .په ۲۰۱۷ کې د یوې بلې سروې پایلې وښودله چې د «اې سي سي» کارتونو د خاوندانو شمېر ۸۸۰ زرو تنو ته رسېږي.

پاکستان د ۲۰۲۳ په نومبر میاشت کې د هغو افغانانو د ایستلو لړۍ پیل کړه چې قانوني اسناد یې نه درلودل. ویل کېږي چې د دې لړۍ په پایله کې له نیم میلیون څخه زیات کډوال له پاکستان څخه ایستل شوي دي .

## بسته مالی جدید اتحادیه اروپا برای لبنان برای محدود کردن مهاجرت

مهاجرنیوز

به گفته نیکوس کریستودولیدیس، رئیس جمهور قبرس، اتحادیه اروپا بسته مالی را برای لبنان اعلام خواهد کرد که ورود پناهجویان سوریایی از لبنان به اتحادیه اروپا را محدود می کند.

کریستودولیدیس به روزنامه‌های شبکه تحریریه آلمان، گفته است: «خوشحالم که به همراه اورزولا فون دیر لاین، رئیس کمیسیون اتحادیه اروپا، در دوم ماه می امسال به لبنان سفر می‌کنم تا بسته مالی مشخصی اتحادیه اروپا به ابتکار خودمان را اعلام کنیم «.

این توافق شامل بازپس گیری پناهجویان نمی شود. کریستودولیدیس در ادامه گفت» :ما می خواهیم به لبنان در برخورد با پناهندگان کمک کنیم تا بیشتر به قبرس نیایند. او در مورد وضعیت کشورش گفت: «کافی است. ما در موقعیتی نیستیم که بتوانیم دیگر پناهجویان سوریایی را بپذیریم.» وی ادامه داده گفته است که "این بسته لبنان فقط جنبه مالی ندارد. نهادهای لبنانی نیز مانند نیروهای مسلح لبنان که "یک عامل تثبیت کننده در کشور هستند" مورد حمایت قرار خواهند گرفت". او از "برنامه بلندمدت" بین اتحادیه اروپا و لبنان صحبت کرد.

رئیس جمهور قبرس گفت: «در عین حال، ما همچنین باید در اتحادیه اروپا درباره این واقعیت صحبت کنیم که مناطق خاصی در سوریه اکنون عملاً امن هستند. ما صریحاً خواستار آن هستیم که برخی مناطق در سوریه به عنوان مناطق امن طبقه بندی شوند «.

اخیراً اتحادیه اروپا در ماه مارچ قرارداد مشارکتی ۷،۴ میلیارد یورویی را با قاهره منعقد کرده است که بر اساس آن مصر در ازای دریافت کمک اتحادیه اروپا، مهاجرت غیرقانونی به سمت اروپا را محدود خواهد کرد .

مدل‌های این توافق، توافق‌های بحث برانگیز مهاجرتی و اقتصادی با ترکیه و اخیراً با تونس و موریتانی است. انتقاد شدید از سوی سازمان های پناهجویان در مورد این توافقنامه ها وجود داشته است.

## وزیران کشورهای منطقه مدیترانه: اتحادیه اروپا باید روابط را با کشورهای مبدا مهاجران «تعمیق» بخشد

مهاجرنیوز




وزیران پنج کشور منطقه مدیترانه روز شنبه با اصرار از اتحادیه اروپا خواستند که توافق های دوطرفه با کشورهای مبدا مهاجران را «تعمیق» بخشیده و حمایت های مالی لازم برای مبارزه با ریشه های مهاجرت را افزایش دهند .

وزیران گروه موسوم به «MED5 nations» که از کشورهای قبرس، یونان، ایتالیا، مالتا و اسپانیا تشکیل شده است، راجع به بسته جدید مهاجرت و پناهندگی که توسط پارلمان اتحادیه اروپا به تاریخ ۱۱ اپریل به تصویب رسید، به بحث و گفتگو نشستند. جلسه آن ها در جزیره گران کاناریا برگزار شد.

بسته بزرگی از اصلاحات گسترده سیاست های پناهندگی اتحادیه اروپا شامل معاهده ای است که تدوین آن سال ها به طول انجامید. براین اساس پروسه های مرزی سختگیرانه خواهند شد، در حالی که همزمان هرکدام از ۲۷ کشور عضو موظف هستند که مسئولیت مهاجران تازه رسیده را در میان یکدیگر تقسیم کنند.

**در همین زمینه**
**<u>تغییر مسیرهای مهاجرت به اتحادیه اروپا همزمان با کاهش ۱۲ درصدی شمار مهاجران</u>**

این إصلاحات در پی سرازیری انبوه مهاجران در سال ۲۰۱۵ به جریان افتاد و مقرره های آن در سال ۲۰۲۶ اجرایی خواهد شد.

فرناندو گرانده مارلاسکا، وزیر داخله اسپانیا این معاهده را «تاریخی» خواند و گفت که «مسیر هنوز طولانی است» و راه حل در «جلوگیری» و هدفگیری ریشه های مهاجرت «از مبدا آن» می باشد.

او در یک نشست خبری گفت: «کلید مدیریت مهاجرت در همکاری های دوطرفه است». مارلاسکا با اصرار از کمیسیون اروپا خواست که «شراکت ها و توافق ها با کشورهای ثالث را تعمیق کرده و گسترده سازند» تا سرازیری مهاجران غیرقانونی مهار شود. او گفت: «ما مطمئن هستیم که فضای کافی برای بهبود وجود دارد و در توافق ها (با کشورهای ثالث) باید بر افزایش حمایات مالی و ابزارهای انعطاف پذیر تمویل مالی تمرکز شود که برای چنین همکاری ایجاد شده اند«.

**در همین زمینه**

**خدمه یک کشتی آلمانی پناهجویان را در بحیره مدیترانه نجات دادند**

**براساس احکام فعلی اتحادیه اروپا، کشورهایی که بخش بیشتر پناهجویان به آن جا وارد می شوند مسئول میزبانی و بررسی درخواست های پناهجویان و بازگرداندن آن هایی هستند که چشم انداز اندکی برای قبولی درخواست های شان دارند. این وضعیت کشورهای جنوب اروپا را تحت فشار عظیمی قرار می دهد و به تقویت اپوزیسیون راستگرا کمک می کند.**

**بسته جدید مهاجرت که احداث مراکز مرزی برای نگهداری پناهجویان و فرستادن برخی از آن ها به مناطق بیرون از کشورهای «امن» بخشی از آن می باشد، مورد انتقاد شدید سازمان های خیریه حامی مهاجران و سازمان های امدادگر غیردولتی قرار گرفته است. از جمله عفو بین الملل که هشدار داده است این بسته جدید به «سختی های بیشتری برای پناهجویان منجر می شود«.**

خبرنامه